# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com          www.afgazad.com

| زن پیشتاز | Vanguard Woman |
|---|---|



فروغ فرخزاد
ژباړه: فرهاد ویاړ


## خور ته مې

ای خورې
پاځیږه او د خپلې آزادۍ په لټه کې شه
ولې چوپه یې ته؟
همدا اوس پاځیږه
رنګ کړه د ظلم او ستم بنسټ
خپل حق واخله، خورې
واخله خپل حق له هغې چې سپکاوی دې کوی
تر څو به د شهوتپالو په حرمسرا کې
د هوسونو د ارضا وسیله یې
***

تر څو به د بیوزلې کنیزې په شان
د چا پښو ته سر ټیټوې
تر څو به د یوې مړې ډوډۍ لپاره
د سلن کلن حاجی صیغه کیږې
د نورو چیغو میغو تر ځنګ
بیا هم نور، بیا هم نور
***

خورې، د بیعدالتی او ظلم له منځه وړلو لپاره
دا ستا قهرجنې زګیرونې، باید فریاد شي
باید دا کلک زنځیر مات کړې
چې په ژوندون آزاده شې
خورې، له خپل ځایه پاځیږه
ظلم له منځه ویسه
خپل درد تسکین کړه،
وجنګیږه
وجنګیږه
د خپل خلاصون لپاره
د نابرابره حق له منځه وړلو لپاره.